سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۳/۱۱

# د بودا وینا



له هغه توری سمڅی
د تور دوزخ له کندی
بیا د (کارما) د غضبو نو لمبی
بیا د باروتو تور تبجن دودونه
د ډبرین غره په سینه پریوتل
او له پیریو پیریو ویده (بودا) یی
له درانه خوبه ویښ که.

بودا خندل ، خندل
او په خندا یی (اهریمن) ته و ویې:
کور دی ودان (لعیینه)
چې دی را ویښ کړم له پیړیو وروسته
تر څو تکرار کړم هغه خپله وینا
بیا د (آدم) او د (حوا) بچو ته
کور دی ودان (لعیینه)
چې دی را پاڅولم.

ترڅو چې و وینم دا خپله نړۍ
په غړولو سترګو
په ( یو ویشتم قرن) کې
ترڅو چې بیا د (سنسارا) له سر تړلی کړۍ
له یخ وهلی ( وجود)
او له بې ويني (بدن)
خپله خبره د (آدم) او د (حوا) بچو ته
یوځلی بیا وکړمه.

چې (نیک عمل)، (نیکه خبره)، (نیک خويي) په کارده
ترڅو انسان ځني انسان جوړ شي
او د شیطان د لعنتي کورنۍ غړی نه شي.

(بودا) خندل ویل یې:
کور دی ودان (لعیینه)
چې له پیړیو وروسته
زما په یاد پریوتی
او له بشر سره دی
بیا راتازه کړلی زما اړیکی

مارچ/۲۲/۲۰۰۱

تورنتو ـ کانادا

(بودا) خندل ویل یی:
کور دی ودان (لعبینه)
چی له پیړیو وروسته
زما په یاد پریوتی
او له بشر سره دی
بیا راتازه کړلی زما اړیکی